
**اخترمحمد یوسفی**

# د امریکا د سپنی ماڼی واکدارونو ته د خزانې د میندولو زیری؟

**د افغان "جهاد" په نامه د امریکی د ډالرو خزانه د پاکستاني جنرال په بانکی حساب کښی پیدا شو!**

## ښکېل پاکستاني جنرال له امریکا څخه د افغان "جهاد" په نامه میلیونونه ډالر غلا کړي وو.



**اخترعبدالرحمان** له خپلو زامنو سره په سویس کې د 'کرېډټ سویس بانک' د حسابونو په هکله په افشا شوي یو څېړنیز راپورکې ویل شوي چې یاد بانک د نړۍ د یو شمېر هېوادونو د هغو کسانو شتمنۍ پټې ساتلې وې، چې په فساد، د پیسو سپینولو او د مخدره توکو قاچاق کې ښکېل وو. په دې نومونو کې د پاکستان د پخواني **جنرال اختر عبدالرحمان** او زامنو نومونه یې هم شته. د راپور له مخې **جنرال اختر** د شوروي اتحاد پر ضد د **'افغان جهاد'** کلونو کې له امریکا میلیونونه ډالره غلا کړي، او په دې بانک کې یې ایښي وو. د راپور له مخې **جنرال اختر** د شوروي اتحاد پر ضد د 'افغان جهاد' کلونو کې له امریکا میلیونونه ډالره غلا کړي او په دې بانک کې یې ایښي وو. د پاکستان د پوځي استخباراتي شبکې یا **ای ایس ای** پخوانی مشر **جنرال اختر عبدالرحمان** د **پاکستان د پخواني پوځي امر جنرال ضیاالحق** نیژدې ملګری بلل کېده.




**جنرال اختر عبدالرحمان** له **۱۹۷۹**م عیسوي کاله بیا تر **۱۹۸۷**م پورې د **ای ایس ای** مشر و، په دې موده کې پاکستان د امریکا او نورو هیوادونو په مالي مرسته په افغانستان کې د شوروي اتحاد پر ضد له افغان مجاهدینو سره مرسته کوله.د سویس راز په دې ښېړنیز راپور کې ویل شوي د افغان جهاد لپاره د امریکا او سعودي عربستان مالي مرستې د **پاکستان د پخواني پوځي امر جنرال ضیاالحق نژدی ملګری جنرال اختر عبدالرحمان** د سویس په دې بانک کې جمع کېدل.

**په لاندنی عکس کښی افغان د "جهادی" لېدرانو د ډلی څخه یواځی بیدین ګل مسکین بیچاره د شاهد توګه ژوندی پاته دی. له بده او یا له نیکه مرغه په شنه لنګوټه کښی مولوی محمدی د طالبان معنوی پلار، د نغمی جانی خسر، حضرت مجدی د حامد جان کرزی د پاچاهی د استعاری فال بین، شهید برهان الدین د پنجشیر د مقاومت پیشوا، په ډوبی کی د بلخ معلم عطا استاد، په تهران کښی د امیر اسماعیل خان لاربنود، په ترکیه کښی د یتیم صلاح الدین مرحوم پلار په حق رسیدلی دی.**



د نړی د ظالم د زوروکو په خاصه د امریکا د سپینی ماڼی د سرزوره واکدارانو څخه، د افغان مظلوم ولس دپاره د عدالت د کوټی لاره او کیلی ډواړه ورک شوی دی. څه د پاسه شپږ میاشتی چی د امریکی د خپل د خوښی طالبان یی واک ته رسول دی، مګر سپنی ماڼی په سپین سترګی سره په افغانستان کښی د خپل د شرمه څخه ډک شل کلن ماته سرزوری کوی نه منی.

پنځه لسیزی تیری شوی، مګرغربی نړی د امریکی تر مشری لاندی، د اعرابو د تیلو په پیسو مست شیخان د اسلام ټیکه داران او ډاره ماران، د پاکستان تورمخی جنرالان او جاسوسان، د ایران د قم د مدرسی بیشرمه ملایان او په افغانستان په د ننه کښی "جهادی" مزدوران د افغانستان د ورانولو، او د بیګناه افغانانو د وژلو څخه خپل لاسونه نه اخلی.

**افغان شریف او مظلوم د امریکی د سپینی ماڼی و سرزوره واکدارانو ته په ډاګه چیغی وهی وایی، چی مستر بایډنه !**

که شپه تیاره ده، خو مڼی په شماردی، هغه ټولی پیسی او شنه ډألر چی امریکائیانو د افغان **"جهاد"** په نامه و پاکستانی جرنیلانوته ته ورکړی وی د پاکستاني جنرال په بانکی حسابو کښی پیدا شویدی.

د امریکی د سپینی ماڼی و سرزوره واکدارانو**!**

د خدایه وبیریږی، نور د افغان شریف او مظلوم پر ولس باندی ظلمونه مه کوی. ستاسو بیګناه خلک عرب تروریستانو د پاکستان په مرسته وژلی دی ، ستاسو بیلډیګونه دوی درته چپه کړیدی. ستاسو او عربو پیسی، د ښکېل پاکستاني جنرالانو په بانکی حسابو کښی پراته دی. د افغان مظلوم ملت په امانتی شتمنیو باندی غرض مکوی، ورشی خپلی پیسی د پاکستان او سعودی عرب څخه واخلی.